نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۶/۱۲/۲۴

# د ملاعبدالسلام ضعیف پر کور برید چا وکړ؟!



اسلام آباد کې د طالبانو پخوانی سفیر عبدالسلام ضعیف

تر ډیره لا هم پخواني طالبان په کابل او نورو سیمو کې د پخوا په ډول بې پروایي لري. ډیر ځله ملا عبدالسلام ضعیف ته د بېلابېلو سرچینو لخوا ویل شوي و چې په تګ راتګ کې احتیاط څخه کار واخلي.
د ضعیف صاحب د کور سره (احسان مېنه، بګرامي) نږدې مدرسه او لوی مسجد دی، هغه چې کله په کور وي پنځه وخته لمونځ حتی الامکان په جماعت سره کوي. د ماخستن لمانځه ته هم مسجد ته ځي. فرض لمونځ په جماعت کوي او بیا بیرته ډیرځله تر نورو لمونځ کوونکو مخکې راوځي او پاتې لمونځ پر کور کوي.
برید کونکو خپلې موخې ته د رسیدو لپاره همدا وخت ټاکلی وو، تر څو د ضعیف صاحب په بې پروایې او یواځیتوب کې هغه په نښه کړي. ولي داچې هغه په همدې شپه ( ۲۳ ډسمبر ۲۰۱۶ ) کابل ښار کې میلمستیا ته بلل شوی وو، نو په خپل کور کې موجود نه وو.
د ماخستن له جماعت وروسته متصل همهغه وخت چې نور وخت به ضعیف صاحب کورته راتلی، بریدګرو د هغه د کور پر ساتونکو برید کړی. د برید جزیات د امنیتي ملحوظاتو له مخې نه شو په ډاګه کولای، یو ساتونکی وژل شوی.
ډیر ژر د ضعیف صاحب سره اوسیدونکي ملګري او کلیوال له خپلو شته وسایلو سره له کورونو راوتلي او د بریدګرو تعقیب یې کړی. برید له دوو لورو شوی، موټرسایکل سپاره او پیاده خلک په سیمه کې لیدل شوي.
د ضعیف صاحب ملګري او نږدې کسان په دې اړه څه نه وایې چې بریدګر به څه ډول خلک وي، او ولې به یې موخه دی ګرځولی وي.
ضعیف صاحب وایې چې له هیچا سره شخصي ستونزه نه لري، او نه هم د کوم شخصي ادرس او یا ډلې لخوا څخه تر دې مهاله د تهدید او یا خطر احساس ورته شوی.
د شپې مهال د کلي خلک او د ضعیف صاحب ملګري مخکې له دې چې امنیتي کسان سیمې ته راورسیږي، هڅه یې کړې چې برید کوونکي پیداکړي، ولې نه دي توانیدلي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

داچي له هيواده بهر ځينو رسنيو راپورونه ورکړي چي ضعيف صاحب ژوبل شوی، ناسم راپورونه دي، او دغه ډول راپورونه د بېلابېلو غرضونو او هدفونو لپاره ورکول شوي.
هغه مهال چي د ضعيف صاحب پر کور بريد کيدی، موږ يوه ډله ملګري په کابل ښار کي ميلمانه وو، او يوځای وو، سمدستي ملګري او مشران د بريد په اړه خبر شول او امنيتي اداري هم خبري شوي.
اوسمهال هم ښاغلی ضعيف صاحب له خپلو ملګرو او دوستانو سره يوځای دی، الحمدلله کومه امنيتي ستونزه نشته، تر دې مهاله ورسره مهم اشخاص په اړيکه کي دي، تر څو د بريد څيړنه وشي.
هيڅ چا هم د بريد پړه په غاړه نه ده اخيستي او ممکن څوک يې واهم نه خلي. د بريد اړوند څيړنو ته به انتظار ولرو.
داچي له دي مخکي د دغسي پېښو اړوند څيړنو نتيجه نه ده ورکړي، ممکن دا هم ورته يوه پېښه او څيړنه وي، ولي داچي د ضعيف صاحب کورنی او ملګري به هم د پيښي اړوند خپل معلومات راټولوي.
داسي ښکاري چي کوم افغان مشران د سولي او امن لپاره هڅي کوي، هغوی يو په بل پسي پخوا هم په نښه شوي، اوس هم په نښه کيږي او بيا به هم په نښه کيږي، ترڅو جګړي په هيواد کي دوام پيدا کړي او د پرديو هيوادونو پوځي شتون او د هغوی موخو ته د رسيدو لپاره لاره هواره پاتي شي.
په کورونو بريد کول که د هر لوري لخوا وي، ناسمي پايلي لري، او بلاخره شخصي دښمنيو ته لاره هواروي، ښکېل اړخونه بايد ددغسي پېښو د مخنيوي لپاره عملا قدمونه واخلي.
يادونه: انځور د ليکني تر بشپړ کيدو وروسته له ښاغلي ملاعبدالسلام ضعيف صاحب څخه اخيستل شوی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ